# د ۸ صبح

د پرون روایت ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌| د نن هینداره | د سبا زېری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۳٤ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰ د وري ۱٤مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ


# د آسیا زړه – استانبول پروسې نهمه ناسته؛ ګډونوالو د سولې د خبرو اترو پر ملاتړ، د جګړې ښکېلو خواوو له لوري د فوري اوربند پر عملي کېدو، په سیمه او نړۍ کې د ترهګرۍ او مخدره توکو قاچاق پروړاندې پر ګډې مبارزې ټینګار وکړ.









۸ صبح
د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری




# سرکرښې

## د استانبول غونډه؛ د افغانستان لپاره رامنځته شوی فرصت

داسې ښکاري چې د استانبول د سولې غونډه له بندون سره مخامخ ده. د رپوټونو له مخې، حکومت، د ملي روغې جوړې عالي شورا او یو شمېر سیاسي بهیرونه به هر یو په جلا جلا طرحو سره دغې غونډې ته ولاړ شي.
امریکا، ترکیه او د ملگروملتونو سازمان د استانبول له ناستې تمه لري چې دا غونډه د افغانستان د جگړې او سولې په اړه وروستی پرېکړه وکړي. له همدې امله دوی ویلي چې که د جمهوریت لوري استازي له یوې واحدې طرحې سره په دغه ناسته کې گډون و نه کړي، له جوړولو به یې لاس واخلي.
که څه هم د ملي روغې جوړې عالي شورا اوسمهال د جمهوریت لوري د بېلابېلو طرحو د توحید او یووالي لپاره کار کوي خو ښايي دا کار زیات وخت واخلي. په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر هم ددغې ډلې له مشرانو سره د مشورو په موخه یو پلاوی پاکستان ته لېږلی دی. دغې ډلې څو ورځې مخکې وړاندیز وکړ چې د استانبول غونډه د روژې له مبارکې میاشتې وروسته جوړه شي؛ خو هم امریکا او هم د ملي روغې جوړې عالي شورا له دغې خبرې سره موافق نه دي، ځکه دوی ترجېح ورکوي چې د استانبول ناسته له مې میاشتې مخکې ترسره او د روژې په مبارکه میاشت کې د اوربند په شان مسایلو په اړه هوکړه وشي.
هغه نیوکه چې تل د دوحې د سولې پر مذاکراتو کېږي دا ده چې په اړه یې داخلي، سیمه ییزه او نړیواله اجماع نه وه. د دونالدترمپ په مشرۍ د امریکا دولت د سولې خبرو ته له ټاکنیز اړخه کتل نه د افغانستان د سولې او جگړې د واقعیتونو پر بنسټ، هغه په ټاکنو کې د بریالیتوب په موخه دا بهیر پیل کړی و، بل لوري ته طالبان وو چې وتوانېدل له امریکایانو ښه امتیاز واخلي. خو په دغو خبرو کې افغان دولت څنډې ته شوی و.
په امریکا کې د جوبایډن په مشرۍ د نوي حکومت په رامنځته کېدو سره وضعیت بدل شو، د یوه نوي سیاسي فورمول خبره وشوه او د افغانستان د جگړې لوري د امریکا د نوي دولت د ارزونې په تمه شول. خو دا تمه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له خوا د سولې د انتقالي حکومت او د استانبول د غونډې په جوړېدو سره پای ته ورسېده.
افغان حکومت دا طرحه د کاغذ پرمخ طرحه وبلله او رپوټ ورکړل شو چې ولسمشر غني به د استانبول غونډې ته له وخته مخکې ټاکنو طرحه وړاندې کړي. اوس داسې ښکاري چې د جمهوریت په لوري کې بېلابېل نظرونه او طرحې ددې لامل شوې چې د افغانستان د سولې په بهیر کې ښکېل لوري تر یوه بریده نهیلي شي.
اوس نو غوره دا ده چې د جمهوریت لورى پر یوې گډې طرحې سره سلا شي او اختلافات یوې خوا ته کړي، ځکه د استانبول غونډه د افغانستان د روان کړکېچ د پای ته رسولو لپاره یو بې سارې فرصت دی. نو باید دا فرصت د جموریت په اړخ کې د اختلافاتو او د طالبانو له خوا د خنډونو په جوړولو سره له لاسه ونه وځي.

# لیکلړ

● د آسیا زړه - استانبول بهیر غونډه کې د ټاکنو له لارې... ۱
● امام علي رحمان د آسیا د زړه هېوادونو په ناسته کې: ۲
● د استانبول ناستې د وخت پر سر اختلاف؛ ۳
● امریکا له افغانستانه په وتلو کې زړه نازړه ده ٤
● د جمهوریت لپاره بېلابېلې هڅې؛ ٦
● د دولت مرکچي پلاوي غړي له طالبانو سره... ۷
● په افغانستان کې د جرمني ځواکونو ماموریت... ۸
● سپین او تور ۹
● لنډۍ ۱۰
● مریدنامه ۱۷ ۱۱
● په ناکامۍ اعتراف؛ لږترلږه ۵۰ سلنه ملي عواید غلا شوي دي ۱۲
● اروپايي هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو ارزول ۱۳
● اوبه او په افغانستان کې د اوبو د مدیریت ستونزې ۱٤
● په جلال آباد کې د گوزڼ ضد واکسین درې ښځینه کارکوونکې ووژل شوې ۱۵
● په کندهار کې یوه امېندواره مېرمن ووژل شوه او ماشوم یې تېپې شو ۱٦
● په ننگرهار کې د نارنج گل دودیزه مېله او مشاعره ترسره شوه ۱۷
● د اپل شرکت مالک ستیو جابز د بریالیتوب ٦ رازونه ۱۸
● د فري‌ستایل سپورټ نوموتې افغان لوبغاړې رقیب... ۱۹

د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب او حفیظ الله علي خېل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د آسیا زړه - استانبول بهیر غونډه کې د ټاکنو له لارې د واک پر لېږد د ولسمشر غني ټینګار

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د اسیا د زړه - استانبول بهیر د غړو هېوادونو نهم پړاو غونډه چې د تاجکستان پلازمېنه دوشنبه کې جوړه شوې وه د وري په لسمه نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره پای ته ورسېده. په اعلامیه کې د سولې پر ټینګښت، په سوله ییز ډول د افغانستان کړکېچ پر پای ته رسېدو او د تېرو شلو کلونو د لاسته راوړنو پر خوندیتوب ټینګار شوی دی. په اعلامیه کې زیاته شوې چې په افغانستان کې سوله د سیمې او نړۍ د ثبات لپاره ګټوره ده.

په دغه دوه ورځنۍ غونډه کې د آسیا زړه - استانبول بهیر غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو، د افغانستان او تاجکستان ولسمشرانو، د ملګروملتونو او د دغه بهیر ملاتړو هېوادونو استازو ګډون کړی و.

افغان ولسمشر محمد اشرف غني د آسیا د زړه ـ استانبول بهیر نهم پړاو غونډې ته په وینا کې وویل چې سوله یې لومړیتوب او یوه مهمه اړتیا ده. ولسمشر د کړکېچ پای ته رسېدو احتمالي طرحې په هکله وویل، حکومت یې د سولې حکومت مسوولیت لري او له وخته د مخکې ټاکنو ملاتړ کوي.

ښاغلي غني، د دغې غونډې په څنډه کې د پاکستان، ترکیې او هند له بهرنیو چارو وزیرانو سره د افغان سولې، سوداګریزو اړیکو او سیمه ییزې همکارۍ په اړه کتنه او خبرې اترې وکړې.

ولسمشر وایي: هغه ټاکنې چې د سولې خبرو په پایله کې ترسره کېږي باید د اساسي قانون پر بنسټ، سراسري، عادلانه او روڼې وي او نړیواله ټولنه یې هم څارنه وکړي.

ولسمشر غني پر عمومي اوربند هم ټینګار وکړ او ویې ویل چې نړیوال بنسټونه دې دا اوربند څارنه وکړي.

د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان ژمنه وکړه، چې حکومت به یې په افغانستان کې د سولې راوستو له بهیر سره تر خپله وسه مرسته وکړي.

په دغه ناسته کې پر افغان سولې سربېره د سیمې هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او امنیتي همکاریو پر پراختیا هم خبرې وشوې.



## امام علي رحمان د آسیا د زړه هېوادونو په ناسته کې:

# د افغانستان ستونزه پوځي حل لاره نه لري





◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان د «آسیا د زړه هېوادونو- د استانبول بهیر» د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په نهمه ناسته کې ویل چې د افغانستان کړکېچ پوځي حل لاره نه لري.

د آسیا د زړه هېوادونو- د استانبول بهیر د بهرنیو چارو وزیرانو نهمه ناسته د وري په لسمه نېټه د تاجکستان په پلازمینې دوشنبې کې ترسره شوه.

امام علي رحمان چې د ناستې لومړی وینا وال و، وویل چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې په افغانستان کې د جګړې او تاوتریخوالي ترخې تجربې ښودلې چې دا جګړه پوځي حل لاره نه لري.

د تاجکستان ولسمشر زیاته کړه چې د افغانستان مسله یوازې په سیاسي هوکړه او د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په موخه په معاصرو لارو چارو کې حل کېدای شي.

امام علي رحمان په افغانستان کې د ترهګرو فعالیتونو، افراط پالنې، جرمونو او د نشه یي توکو د قاچاق په اړه اندېښنه څرګنده کړه او وې ویل چې ترهګرو او افراطي ډلو په افغانستان کې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره وضعیت پېچلی کړی دی.

د تاجکستان ولسمشر ټینګار وکړ چې هېواد یې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره په بین الافغاني مذاکراتو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دریځه ملاتړ کوي.

د تاجکستان ولسمشر همداراز وویل چې په بین الافغاني مذاکراتو کې باید د ټولو افغانانو ګټو ته پام وشي او افغانان په خپله، خپل برخلیک وټاکي.

رحمان له نړیوالې ټولنې او د افغانستان د سولې په بهیر کې له ښکیلو هېوادونو وغوښتل چې په اوسنیو شرایطو کې له افغانانو سره همکاري وکړي.

د تاجکستان ولسمشر د افغانستان اوسنی وضعیت د خپل هېواد د ملي روغې جوړې له شرایطو سره پرتله کړ او وې ویل چې د تاجکستان د حکومت او مخالفینو ترمنځ لومړني مذاکرات په کابل کې ترسره شول او په ۱۹۹۷ کال کې د خبرو په وروستي پړاو کې په تالقان کې هوکړه لاسلیک شوه.

امام علي رحمان زیاته کړه چې هېواد یې د پخلاینې په برخه کې اوږده تجربه لري او چمتو دی چې په دې اړه له افغانستان سره همکاري وکړي.

د تاجکستان ولسمشر له نړیوالې ټولنې او نورو هېوادونو وغوښتل چې له افغانانو سره بې غرضه مرسته وکړي.

له بلې خوا، ددغې ناستې په څنډه کې افغانستان او تاجکستان په بېلابېلو برخو کې د همکارۍ پنځه سندونه لاسلیک کړل. د همکارۍ دغه سندونه د وري په نهمه نېټه د افغان ولسمشر محمد اشرف غني او د تاجکستان د ولسمشر امام علي رحمان په وراندې د دواړو هېوادونو د ادارو ترمنځ لاسلیک شول.

ولسمشرۍ دفتر ویلي چې دغه موافقې په سیاسي، امنیتي، سوداګریزو، ترانزیتي، ترانسپورتي، کلتوري او د انرژۍ په برخو کې لاسلیک شوې دي.

د آسیا د زړه هېوادونو- د استانبول بهیر د بهرنیو چارو د وزیرانو د ناستې د بحثونو اصلي موضوع د افغانستان د سولې بهیر و.

# د استانبول ناستې د وخت پر سر اختلاف؛ طالبان له روژې وروسته د ناستې غوښتونکي دي

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د ټاکنو پر بهیر څېنو څارونکو له ۸صبح سره په خبرو کې ددغې ناستې د جوړېدو د وخت په اړه د استانبول ناستې د گډون کوونکو ترمنځ د نظر د اختلاف خبر ورکړی دی.

ټاکل شوې وه چې د اپریل په ۱۵مه نېټه دغه غونډه جوړه شي. سرچینې وايي چې طالبانو ډلې وړاندیز کړی چې دا ناسته د روژې له مبارکې میاشتې وروسته ترسره شي.

ددغې سرچینې په وینا، ترکیې او سیمې ته د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سفر چې تازه پیل شوی، د استانبول غونډې د وخت او نورو تخنیکي مسایلو په اړه دی. سرچینې وايي چې طالبانو د اپریل په ۱۵مه د استانبول غونډې له جوړېدو سره مخالفت کړی دی.

دغو سرچینو چې د سولې پر بهیر څارنه کوي، باوري دي چې د استانبول غونډې د وخت پر سر اختلاف، امریکا او د دغه هېواد ځانگړی استازی له سختو شرایطو سره مخامخ کړی دی. اوس ددې احتمال شته چې دا ناسته وځنډول شي.

د سرچینو په وینا، ترهغه چې د استانبول په غونډه کې د لارې د یوې نقشې پر سر هوکړه ونه شي، په افغانستان کې به د امریکایي ځواکونو برخلیک روښانه نه شي. له همدې امله ښایي چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهال وېش چې د دوحې په موافقه کې مې میاشت ټاکل شوې ده وغځول شي.

د موثقو سرچینو د مالوماتو پربنسټ، ټاکل شوې وه ولسمشر غني د استانبول په غونډه کې گډون وکړي، خو طالبانو د هغه له گډون سره مخالفت کړی دی. سرچینې وايي چې محمد اشرف غني د استانبول په ناسته کې د گډون لپاره چمتووالی اعلان کړی و.

له دې مخکې رپوټ ورکړ شوی و چې ولسمشر غني د استانبول په ناسته کې له وخته مخکې ټاکنو د ترسره کېدو طرحه وړاندې کوي. دا طرحه چې د زلمي خلیلزاد له خوا د وړاندې شوې انتقالي دولت طرحې په وړاندې برابره شوې، په راتلونکو شپږو میاشتو کې د ولسمشرۍ ټاکنو وړاندیز پکې شوی دی.

کارپوهان په دې اند دي چې د تېرو کلونو ټاکنو او د درغلیو تورونو او جنجالي کېدو ته په پام سره، له وخته وړاندې ټاکنې د سولې غوټه نه شي پرانیستی.

د استانبول غونډه چې ټاکل شوې د ملگروملتونو سازمان په مدیریت او د امریکا په ملاتړ جوړه شي، د سولې بهیر د برخلیک لپاره مهمه بلل کېږي. د ملي روغې جوړې د عالی شورا رییس عبدالله عبدالله، وېلي چې دا ناسته به د افغانستان لپاره برخلیک ټاکونکې وي.



# امریکا له افغانستانه په وتلو کې زړه نازړه ده



◆ لیکوال: عبدالاحد حسیني
◆ ژباړن: م. ع. پ

د امریکا ځینو اطلاعاتي آژانسونو د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان د راتلونکي په اړه د دې هېواد ولسمشر جو بایډن ته خبرداری ورکړی دی. دغو آژانسونو ویلي چې که امریکایي ځواکونه د دولت او طالبانو ترمنځ د واک له وېشلو مخکې افغانستان پرېږدي، نو د افغانستان ډېری سیمې به د دوو یا درېیو کلونو په اوږدو کې د طالبانو تر ولکې لاندې راشي. د ارزونو له مخې طالبان په سیمو باندې خپل کنټرول په چټکۍ سره ډېروي او له بله پلوه په روژنو او پوځي مرستو سربېره د افغانستان پوځ اوس هم په ماتېدونکي حالت کې دی. که څه هم امریکا تر دې دمه په افغانستان کې د خپلو پاتې سرتېرو د برخلیک په اړه وروستۍ پرېکړه نه ده کړې، خو د افغان دولت ځینو پوځي مشرانو او چارواکو ویلي چې که امریکایي سرتېري آن د روان زېږدیز کال تر وروستیو پورې هم لـه افغانستانه ووځي نو د امریکا ماموریت به ناکام او د وروستیو دوو لسیزو لاسته راوړنو ساتنه به پېچلې کړي. **د افغانستان د ملي امنیت شورا ویلي چې په بیړې سره د امریکایي ځواکونو د وتلو په صورت کې د کورنیو جګړو د رامنځته کېدو احتمال شته دی. خو طالبانو خبرداری ورکړی چې له مې میاشتې وروسته په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو په صورت کې به دغه ډله د بهرنیو ځواکونو پر وړاندې خپله مبارزه له سره پیل کړي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا دولت د سیمې لـه هېوادونو سره د خپلو اختلافاتو د حل او د دولت او طالبانو د خبرو د پایلو لپاره د استانبول ناسته ځنډولې ده.**

نیویارک ټایمز څو ورځې مخکې یو راپور خپور کړ چې د امریکا حکومت د استخباراتي ادارو لخوا ارزونې په ګوته کوي. دغه راپور چې یوه برخه یې تېر کال د ډونالډ ټرمپ حکومت لپاره چمتو شوې وه د امریکا د حکومت د پټو یا محرمو معلوماتو برخه وه او تراوسه نه و خپور شوی. د نیویارک ټایمز د معلوماتو په اساس، دا ارزونه د افغانستان د راتلونکي په اړه د هغو څرګندو اټکلونو ټولګه ده چې استخباراتي کارپوهانو په تېرو دوو لسیزو کې وړاندې کړې دي. په دغه راپور کې ویل شوي که چېرته بهرني ځواکونه د دولت او طالبانو ترمنځ د واک لـه وېشلو مخکې له افغانستانه ووځي، نو دغه هېواد به د بهرنیو ځواکونو لـه وتلو وروسته په دوه یا درېیو کلونو کې په لویه کچه د طالبانو په واک کې شي. نیویارک ټایمز زیاتوي، په داسې حال کې چې د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ لـه طالبانو سره د سولې هوکړې له مخې د امریکایي ځواکونو د وتلو غوښتونکی ؤ، خو جو بایډن په دې هکله بل ډول نظر لري او په خپل وروستي تصمیم کې یې ویلي چې، د روان کال د مې په لومړۍ نېټه د امریکایي ځواکونو وتل د تخنیکي دلایلو له امله، ستونزمن دي. هغه ټینګار کړی چې، په راتلونکي کال کې د امریکایي ځواکونو وتل د اټکل وړ دي.

په راپور کې راغلي چې لـه افغانستانه د امریکاي سرتېرو د وتلو نېټې په نږدې کېدو سره، د جو بایډن د حکومت چارواکي هڅه کوي چې نوموړی او د ملي امنیت نورو لوړ پوړي چارواکي تر اغېز لاندې راولي. د نیویارک ټایمز په راپور کې راغلي، کـه څـه هم دفاع وزیر لوید اسټین تر دې دمه نـه ده جوته کړې چې هغه بـه له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره کومه کړنلاره مخ ته یوسي، خو د پنټاګون ځینې چارواکي په دې باور دي چې امریکایي سرتېري باید د لاډېرې مودې لپاره په افغانستان کې پاتې شي. د نیویارک ټایمز د راپور لـه مخې، امریکایي چارواکو وړاندوینه کړې چې کـه بهرني ځواکونه افغانستان پرې نږدي او په لږ شمېر سره دې هېواد کې پاتې شي نو افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه به د افغانستان د ځینو برخو د سقوط مخه ونیسي او له کابل سره به مرسته وکړي چې لوی ښارونه په خپل کنټرول کې وساتي.

**خو د امریکا یو شمېر پوځي قوماندانانو او حکومتي چارواکو خبرداری ورکړی که امریکایي ځواکونه آن د روان کال تر پایه هم لـه افغانستانه ووځي نو د امریکا ماموریت ناکامه کوي او د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو ساتنه به پېچلې کړي. د دغو چارواکو په وینا، د دې لاسته راوړنو د خوندیتوب یوازینۍ لار په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د یوې برخې پاتې کېدل دي.**

دغو چارواکو دلایل وړاندې کړي چې سرکال به د امریکایي ځواکونو وتل د اوسني حکومت د «ړنګېدو»، د بشري او ښځو حقونو د «جدي» سرغړونې او د نړیوالو ترهګرو ډلو د بېرته راستنیدو لامل شي. د جو بایډن دولت یو شمېر نورو چارواکو ویلي چې په بېړې سره وتل به افغانستان تـه د امریکایي سرتېرو د بېرته راتګ سبب لامل شي.

د بایډ حکومت چارواکي د هغو ګواښونو په اړه اندېښمن دي چې د طالبانو لخوا افغان مېرمنې ورسره مخامخ دي،مېرمنو تـه متوجه دي. دغو چارواکو اټکل کړی چې ښایي په لومړیو کې طالبان د مېرمنو حقونه خوندي کړي خو په هېواد کې د دغې ډلې په واکمنېدو سره به له ښځو څخه ملاتړ پېچلی شي. دا په داسې حال کې ده چې په ملګروملتونو سازمان کې د امریکا د سفیر په وینا، کـه چېرته افغانستان غواړي د نړیوالې ټولنې مالي او سیاسي ملاتړ لـه ځان سره ولري، نو په هېواد کې باید د هرې هوکړې او تړون لاسته راوړنې خوندي وساتي. هغه ویلي دي، په دې کې د شک هېڅ ځه نشته.

لـه بلې خوا، پـه دغه راپور کې راغلي چې د بایډن اداري لوړپوړي چارواکي د القاعدې او اسلامي دولت د بیا فعالېدو د وړاندوینو په

اړه شک لري؛ ځکه دوی باور لري چې طالبان د اسلامي دولت ډلې (داعش) مخالف دي او د القاعدې ډلې حضور هم پیکه دی.
د نیویارک ټایمز د راپور په اساس، سپینې ماڼۍ په دې اړه ځینې ناستې ترسره کړې او نورې غونډې هم کوي. په دې توګه جو بایډن په پام کې لري چې د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر انتوني بلینکن او دفاع له وزیر لویډ استین سره ناستې ترسره کړي. بلینکن له دې مخکې د ناټو غړو هېوادونو په ناسته کې د امریکا له متحدینو سره خبرې کړې وې. استین هم کابل ته د سفر پر مهال، د افغان حکومت نظرونه اخیستي دي.

**د راپور له مخې د بایډن اداره هڅه کوي چې له مې میاشتې مخکې په بین‌الافغاني مذاکراتو کې پرمختګ وشي. د یادونې وړ ده چې د افغان حکومت مرکچې پلاوي یوې برخې د وري په اوومه د شنبې په ورځ دوحې ته سفر وکړ. له بلې خوا، ویل شوي چې د بایډن اداره د استانبول ناستې په ترسره کېدو ټینګار کوي او سربېره پردې هڅه کوي چې د طالبانو له لوري د ۹۰ ورځنۍ تاوتریخوالي په کمېدو سره بین‌الافغاني مذاکراتو ته دوام ورکړي.**

په ورته وخت کې امریکايي چارواکي د پورته ذکر شویو وړاندوینو په اړه شک لري؛ ځکه چې د دوی په وینا، د معلوماتو اټکل ښايي په راتلونکي کې ننګونې وزېږوي. د نړیوالو مرستو دوام دغو له مواردو ګڼل شوی دی، ځکه چې د دوی په باور امریکا د پاتې کېدو په صورت کې په ډېرو پیسو لګولو محکومه ده او د وتلو په صورت کې دا احتمال شته چې کانګریس ډېر ژر د مالي ملاتړ د اندازې د کمېدو اقدام وکړي.
له بله پلوه له افغانستانه د امریکايي ځواکونو د وتلو په اړه هم بېلابېل نظرونه شته. د واشنګټن له ایالته دیموکرات استازی او په کانګرس کې د وسله‌والو خدماتو د کمیټې رئیس ادم سمیت په یوه انلاین غونډه کې ویل چې، نننی افغانستان د ۱۹۹۰ کال افغانستان په څېر نه دی چې د القاعدې ډله دې کمپ په کې جوړ کړي. د سمېټ په باور د امریکايي ځواکونو پاتې کېدل امریکایانو ته د خطر د ډېرېدو لامل کېږي او په مالي لګښتونو سربېره د امریکا مخالفو ډلو لپاره د قوتونو د جذبولو په پروپاګند کې مرسته کوي.
په ورته وخت کې ویل کېږي چې افغان ملي پولیس او سیمه‌ییز ځواکونه د سیمو د ساتلو توان نه لري او دا دې لامل کېږي چې پرځای یې د پوځ او کمانډو ځواکونه ځای پر ځای شي خو د امریکا له لوري دغه تکتیک ډېر وخت نیسي.

**د امریکايي ځواکونو وتل افغانستان له کورنۍ جګړې سره مخ کوي**

له بله پلوه، د افغانستان لوړپوړي امنیتي چارواکي وايي چې د امریکايي ځواکونو د وتلو په صورت کې به افغانستان له یوې بلې کورنۍ جګړې سره مخ شي. **د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب د روان کال د وري په اوومه نېټه په یوه خبري کنفرانس کې وویل: «که بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي او موږ د سولې په لور لاړ نه شو، نو د دې خطر او وېره شته چې افغانستان له یوې کورنۍ جګړې سره مخ شي.»** نوموړي ټینګار وکړ چې حکومت او د افغانستان خلک نه غواړي د یوې کورنۍ جګړې په لور لاړ شي.

هغه څرګنده کړه چې امنیتي ځواکونه هڅه کوي، د افغانستان کورنۍ جګړې ته د رامنځته کېدو د مخنیوي احتمالي نیمګړتیاوې ډکې کړي. هغه وویل، ټول چمتووالی د همدې لپاره دی چې د دغه ډول استخباراتي خبرداریو مخه ډب شي. محب اوسنی فرصت د سولې لپاره ترټولو غوره فرصت په ګوته کړ او د طالبانو له ډلې یې وغوښتل چې له دې فرصته ګټه پورته کړي. د ملي امنیت شورا سلاکار همداراز وویل، که طالبان په دې تمه وي چې د امریکايي ځواکونو له وتلو وروسته به قدرت ته ورسېږي، نو تېروتنه کوي. هغه وویل، په اوسني وخت کې هېڅوک د طالبانو ډلې په تمه نه دي او هېڅوک دغه ډله نه غواړي.
محب زیاته کړه، د طالبانو ډله د سولې په لټه کې نه ده او د طالبانو کوم پلاوي چې دوحې ته یې سفر کړی بشپړ واک نه لري. هغه وویل: «دوی پر اصلي موضوع بحث نه کوي، د افغانانو وژنې ته یې دوام ورکړی، پلونه او د افغانستان بنسټیزې پروژې ویجاړوي. موږ غواړو چې طالبان واقعي مذاکراتو ته چمتو شي څو سولې ته ورسېږو.»
ملي دفاع وزارت هم وايي چې د هرې سناریو لپاره چمتو دي. د مسؤلینو په وینا، که کوم لوري له حکومت سره د امنیت په ټینګښت کې مرسته وکړه ښه به وي او که نه افغان دولت پر کوم چا «پور» نه لري. دا په داسې حال کې ده چې طالبانو له افغانستانه د امریکايي ځواکونو د نه وتلو په صورت کې خبرداري ورکړی دی. طالبانو ویلي، که امریکایان د دغې ډلې او امریکا ترمنځ د شوي هوکړې په مادو عمل ونه کړي نو په هغه صورت کې به دوی د بهرنیو ځواکونو پر وړاندې خپلې وسله والې مبارزې ته دوام ورکړي.
له دغو اندېښنو سره هم‌مهاله امریکا د استانبول ناسته تر نامعلومې نېټې پورې ځنډولې ده. د سرچینو په وینا، په لومړیو کې تمه وه چې د استانبول ناسته د مارچ په ۲۷مه نېټه ترسره شي، خو د سیمې له هېوادونو سره د امریکا اختلافات، د طالبانو له لوري د وړاندې شوي طرحې په اړه نه همغږي او د ولسمشرۍ ماڼۍ له لوري له دې طرحې سره مخالفت د دې لامل شو چې امریکا پر خپل ټاکل شوي مهال وېش له سره غور وکړي. په دې توګه پرېکړه شوې ترڅو چې ټول اړخونه سره همغږي او هوکړې ته ونه رسېږي نو د استانبول ناسته به نه ترسره کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د سرچینو په وینا، لږترلږه د جمهوریت حوزې له لوري به درې بېلابېل نظریات د امریکا د طرحې په اړه وړاندې شي.
تمه ده چې د ولسمشرۍ ماڼۍ ډله، مخکیني ولسمشر حامدکرزي ته نږدې کسان او یو شمېر نور سیاستوال خپل واندیزونه وړاندې کړي او د ملي روغې جوړې عالي شورا د دغو طرحو د یوځای کولو او راټولولو مسؤلیت په غاړه لري.
ویل کېږي چې د امریکا له لوري د وړاندې شوې طرحې په اړه سلامشورې روانې دي. امریکا له دې مخکې د افغانستان د راتلونکي او د سولې بهیر د ګړندیتوب لپاره د سولې انتقالي دولت طرحه وړاندې کړې ده. که څه هم ولسمشرۍ ماڼۍ له دغې طرحې سره په څرګند ډول مخالفت وکړ، خو له وخته مخکې ټاکنو په اړه یې شین څراغ وښود؛ هغه ټاکنې چې د څارونکو بنسټونو له نظره تخنیکي، د وخت او اعتباري اړخونو ته په کتو سره یې ترسره کېدل ناشوني دي.

# د جمهوریت لپاره بیلابیلي هڅې؛

# څوک به د سولې نقشه برابره کړي؟

◆ لیکوال: حسیب بهش
◆ ژباړن: محمد عزیز پردېس

د استانبول ناستې په درشل کې، د جمهوریت اړوند د امریکا د طرحې په اړه بیلابیلې مشورې روانې دي. په داسې حال کې چې د سیاسي هوکړې پر بنسټ د سولې بهیر د چارو پرمخ بېولو مسؤلیت د ملي روغې جوړې د عالي شورا په غاړه دی، خو ولسمشرۍ ماڼۍ وایي چې د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني په افغانستان کې سولې ته د رسېدو په پار نقشه برابره کړې ده. تمه ده چې ولسمشرۍ ماڼۍ د امریکا نوې طرحې او د سولې انتقالي دولت سناریوګانو په ځواب کې له وخته وړاندې ټاکنو بحث رامخ ته او وړاندیز یې وکړي. حکومتي چارواکي وايي چې دا طرحه د چا په ځواب کې نه ده او د ولسمشر غني له لوري سولې ته د رسېدو په پار برابره شوې نقشه ده چې پر ټاکنو سربېره نور موارد هم له ځان سره لري. په سپېدار ماڼۍ کې ځینې سرچینې وايي چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د لیدلوري په ګډون د جمهوریت اړوند ټول وړاندیزونه د ملي روغې جوړې عالي شورا له لوري یوځای کېږي او د دولت له ادرسه د استانبول په ناسته کې وړاندې کېږي. دغه بنسټ له زیات شمېر سیاسیونو سره د هوکړې په اساس ډېر ځله د انتقالي حکومت لپاره شین څراغ ښودلی او په راتلونکې کې د نظام د ماهیت په اړه یې ډېر بحثونه او مشورې کړې دي. د امریکا د طرحې په اړه سلامشورې په داسې وخت کې دوام لري چې یو شمېر سیاسي پوهانو له لوري د جمهوریت بحث تراوسه هم یو شان نه دی او د ارزښتونو او لاسته راوړنو د راتلونکې په اړه اندېښنې په خپل ځای دي.

د امریکا له لوري په افغانستان کې د سولې انتقالي دولت د رامنځته کېدو په تړاو طرحه په دې وروستیو کې د سیاسي بحثونو توده موضوع ده. تمه ده چې دولت او طالبان د دغې طرحې اړوند خپل وړاندیزونه د استانبول په ناسته کې وړاندې کړي. د جمهوریت په حوزه کې د ملي روغې جوړې عالي شورا د نظرونو د راټولولو او یوځای کولو مسؤلیت په غاړه لري. د ۱۳۹۹ کال د غوایي میاشتې د ۲۷مې نېټې د هوکړې په اساس د سولې بهیر مشري د دې شورا د رئیس عبدالله عبدالله له صلاحیتونو څخه دي. د سیاسي هوکړې په دوهم بند کې راغلي چې «د سولې اړوند چارو مشري» به د ملي روغې جوړې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله په غاړه وي. په داسې حال کې چې د ملي روغې جوړې عالي شورا د مشرتابه کمیټې غړي په وروستیو ورځو کې د امریکا د نوې طرحې په اړه په سلامشورو بوخت دي، خو ولسمشرۍ ماڼۍ د «سولې لارې د نقشې» په چوکاټ کې له یوې نوې طرحې خبر ورکړی دی.

**ولسمشرۍ ماڼۍ په پام کې لري چې یوه نوې طرحه له امریکا سره شریکه کړي. په دغه طرحه کې له وخته مخکې او په شپږو میاشتو کې د ټاکنو وړاندیز شوی. که څه هم د دغې طرحې جزئیات لا نه دي په ډاګه شوي، خو ولسمشرۍ ماڼۍ دغه طرحه د ولسمشر غني د سولې لارې د نقشې یوه برخه ګڼي .**

په عامه او ستراتېژیکو چارو کې د ولسمشر سلاکار وحید عمر د روان کال د وري په پنځمه وویل چې، ولسمشر غني له څو کلونو راهیسې د افغانستان لپاره څرګنده طرحه لرلې ده او اوس یې هم لري. هغه زیاته کړه چې وروستۍ طرحه په ټاکنو پورې ځانګړې نه ده، بلکې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت هم پکې شامل دي. د ښاغلي عمر په وینا، دغه «د سولې د لارې نقشه» د چا د طرحې د ځواب او یا ردولو لپاره نه، بلکې سولې ته رسېدو لپاره د افغان حکومت نقشه ده چې په هغې کې د خلکو د رایو له لارې د



واک لېږد هم راځي. خو ولسمشرۍ ماڼۍ په دې اړه چې ګواکې دا طرحه د حکومت ګډه طرحه ده که نه، څه نه وايي.

**که څه هم سپېدار ماڼۍ تراوسه په دې اړه په رسمي توګه څه نه دي ويلي خو له ملي روغې جوړې شورا څخه سرچينو ۸صبح ته ويلي چې د دولت له لوري د طرحې جوړول د دې شورا لپاره ستونزمن دي. تمه ده چې د ملي روغې جوړې عالي شورا د مشرتابه کمېټې غړي د امريکا له خوا شريکې شوې طرحې په اړه خپل نظريات شريک کړي او له سلامشورو وروسته خپل نظرونه د استانبول په ناسته کې وړاندې کړي. دغه سرچينې وايي چې د يادې شورا په مشرتابه کمېټه کې د حکومت استازي هم شامل دي او د جمهوريت حوزې استازولۍ مسؤليت په غاړه لري. ويل کېږي چې د ملي روغې جوړې عالي شورا مشرتابه کمېټه کې د ولسمشرۍ ماڼۍ د استازو له ډلې د سرور دانش په ګډون لږ شمېر وګړو د امريکا طرحه له ملي روغې جوړې عالي شورا شره شريکه کړې ده.**

خو د سياسي چارو کار پوهان په دې باور دي چې د جمهوريت لوری په يوه فکر او واحد نظر نه دی. د افغانستان د خلکو د برابرۍ ګوند رئيس داوودعلي نجفي د روان کال د وري په شپږمه ۸صبح ته وويل، افغانان اوس هم انديښمن دي چې که د جمهوريت لوری له «يوې طرحې» سره د سولې مذاکرتو ته لاړه نه شي، نو د دې وېره شته چې دولت به ونه شي کولی له ارزښتونو دفاع او ساتنه وکړي.

د ښاغلي نحفي په وينا، عبدالله عبدالله بايد د خپلو صلاحيتونو پر بنسټ په دغه بهير کې جدي کار وکړي. هغه وويل، که د ملي روغې جوړې عالي شورا له ادرسه يوه طرحه امريکا ته استول شوې وای ښه به وه، خو داسې ښکاري چې ښاغلی عبدالله نه دی توانېدلی خپله وظيفوي لايحه او صلاحيتونه عملي کړي، نو له همدې امله دغه اړ و دوړ رامنځته شوی دی.

د ښاغلي داوودعلي نجفي په خبره، که د جمهوريت لوری د مذاکرې پر مېز په منسجمه توګه راڅرګند نه شي او له هرې خوا يوه طرحه وړاندې شي، نو د خلکو غوښتنې به پوره نه شي. هغه همداراز څرګنده کړه چې له وخته مخکې ټاکنې د ځان لپاره «ځانګړي شرايط» لري چې په قانون کې په څرګنده ډول بيا شوي دي. ښاغلي نجفي زياته کړه، د افغانستان اوسنی شرايط ددغه راز ټاکنو لپاره مناسب نه دي؛ ځکه چې د نوموړي په باور، د تېرو ټاکنو ستونزو په کتو، پر دې بهير نه باور او د ټاکنو په خپلواک کمېسيون کې شته ظرفيت ته په کتو سره د داسې ټاکنو ترسره کېدل شوني نه دي.

د سولې په بهير کې د سياسي هوکړې اړوند يوې پايلې ته رسېدل ستونزمن بريښي. که څه هم سپېدار ماڼۍ د سولې په بهير کې د خپل صلاحيت په اړه هغه وخت ټينګار درلود، خو ولسمشرۍ ماڼۍ وايي چې د سولې بهير په اړه وروستۍ پرېکړه د خلکو له خوا کېږي. له دې وړاندې امريکا هم ويلي ؤ چې د سولې مذاکراتو، د واک وېش او اوربند په برخو کې صلاحيت لرونکی بنسټ د ملي روغې جوړې عالي شورا ده. تمه ده چې ټول لوري د استانبول په ناسته کې د امريکا د طرحې په اړه خپل وړانديزونه مطرح کړي. ويل کېږي چې د دغې ناستې مشري به د ملګروملتونو سازمان پر غاړه وي.

# د دولت مرکچي پلاوي غړي له طالبانو سره د مذاکراتو بيا پيلولو په پار دوحې ته ولاړل

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ملي امنيت شورا سلاکار حمدالله محب د وري په ۷مه نېټه وويل چې د افغان دولت مرکچي پلاوي غړي په کابل کې ؤ او له طالبانو سره د مذاکراتو د بيا پيلولو لپاره دوحې ته ولاړل. د افغان دولت مرکچي پلاوي مشر معصوم ستانکزي په ګډون د دغه پلاوي ځينې غړي په کابل کې ؤ.

د حمدالله محب په وينا، د استانبول ناستې په درشل کې دغه پلاوی له طالب لوري سره خبرې اترې له سره پيلوي.

د بين الافغاني مذاکراتو دويم پړاو د تېر کال د مرغومې په ۱۶مه نېټه پيل شو، خو تر دې دمه يې هېڅ کومه پايله نه ده لرلې.

حمدالله محب وويل چې، بايد د استانبول د ناستې آجنډا روښانه او دا جوته شي چې څه پايله له دغې ناستې ترلاسه کېدای شي.

د ولسمشر د ملي امنيت سلاکار همداراز وويل، دا ډېره مهمه ده چې څرګنده شي د طالبانو په استازولۍ کوم کسان په دغه ناسته کې ګډون کوي.

حمدالله محب وويل: هغه ډله چې د طالبانو په استازولۍ مسکو ته تللې وه، د سولې مخالفه وه او صلاحيت يې نه درلود.

محب زياته کړه چې، دغه ډله د تصميم نيولو صلاحيت نه لري او له دوی سره په دوحه کې مذاکراتو تر دې دمه کومه پايله نه ده لرلې.

د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د طالبانو يوه پلاوي د تېر کال د کب په ۲۸مه د مسکو په ناسته کې ګډون کړی ؤ. تمه ده چې د استانبول ناسته په اپرېل مياشت کې ترسره شي.

حمدالله محب وويل، د دغې ناستې د آجنډا او د ترلاسه کېدونکو پايلو په اړه يې خبرې اترې روانې دي.

ډېرې وګړي په دې باور دي چې د استانبول ناسته د «بُن» ناستې ته ورته ده چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د واکمنۍ له ړنګېدو وروسته ترسره شوه.





# په افغانستان کې د جرمني ځواکونو ماموریت د یوه بل کال لپاره هم وغځول شو

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د جرمني په فدران پارلمان کې د دغه هېواد د دولت د طرحې په تصویب سره، په افغانستان کې د جرمني ځواکونو ماموریت د یوه بل کال لپاره هم وغځول شو.

**د جرمني فدران پارلمان د وري په پنځمه نېټه د یوې نوې طرحې په تصویب سره د دغه هېواد پوځ ته اجازه ورکړه چې په افغانستان کې د جرمني ۱۳۰۰ پوځیان د ناټو ماموریت د یوې برخې په توګه د ۲۰۲۲ کال د جنوري تر ۳۱مې پورې په افغانستان کې پاتې شي.**

په افغانستان کې د جرمني ځواکونو اوسنی ماموریت د ۲۰۲۱ کال د مارچ په ۳۱مه پای ته رسېږي. جرمني د ناټو لومړنی غړی هېواد دی چې په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت غځوي.

د جرمني دولت خبرداری ورکړی چې له افغانستانه د ناټو ځواکونو له وخته مخکې وتل د سولې مذاکرات له خطر سره مخامخ کولی شي.

د دوحې د هوکړې له مخې، ټول امریکایي او د متحدینو ځواکونه یې باید د غوایي تر یوولسمې نېټې له افغانستانه ووځي.

**خو جوبایډن واک ته له رسېدو وروسته په خپله لومړۍ خبري ناسته کې اعلان کړی چې په ټاکلي وخت له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل ګران کار دی.**

**بایډن د وري په پنځمه په دغه خبري ناسته کې ټینګار وکړ چې امریکا به د ډېر وخت لپاره په افغانستان کې پاتې نه شي.**

هغه ددې پوښتنې په ځواب کې چې آیا امریکایي ځواکونه به په راتلونکي کال کې په افغانستان کې وي که نه، وویل چې ددې موضوع تصور ورته ممکن نه دی.

د امریکا ولسمشر زیاته کړه چې له افغانستانه وتل به منظم او خوندي وي. جوبایډن همداراز زیاته کړه چې امریکا له خپلو متحدینو سره چې په افغانستان کې ځواکونه لري، په دې اړه د مشورې په حال کې ده. د هغه په وینا، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن په بروکسل کې له ناټو او نورو متحدینو سره مشوره کوي.

هغه کابل ته د امریکا ددفاع وزیر لوید آستین سفر ته په اشارې سره وویل چې له لوریو سره یې سلامشورې کړې دي.

د امریکا ولسمشر ټینګار کړی چې ډېر زر به د ملګروملتونو سازمان په مدیریت بهیر پیل شي ترڅو په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو څرنګوالی وڅېړي.

جوبایډن وایي چې د دوحې د هوکړې په اړه ارزونې رواني دي ترڅو دا جوته شوي، د دونالد ترمپ دولت دا هوکړه په کومو شرایطو سره لاسلیک کړې ده.

**اخوا، طالبانو له ټاکلي وخته وروسته په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو په اړه خبرداری ورکړی او ویلي یې دي چې له ټاکلي وخته وروسته د امریکایي ځواکونو شته والی اشغال بلل کیږي.** ناټو تراوسه په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د پاتې کېدو یا ایستلو په اړه پرېکړه نه ده کړې.

ځینې رپوټونه وایي چې واشنګټن په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د وخت د غځولو په حال کې دی. امریکا او په ناټو کې د هغې متحدینو ټینګار کړی چې یو ځای افغانستان ته راغلي او په مناسب وخت کې او د شرایطو په برابرېدو سره به په ګډه له افغانسانه وځي.

# سپین او تور

◆ **ژباړن: نجیب منلی**

«فرانسوا ماري ارویت ولتېر د فرانسې یو ستر لیکوال او فیلسوف دی، چې خپلې ډېرې مهمې فلسفي یې د کیسو او افسانو په چوکاټ کې رانغښتې دي.»

د کندهار په ولایت کې ټول د ځوان رستم له کیسې خبر دي. دی د سیمې د یو میرزا یوازینی زوی و. میرزا داسې یو منصب دی لکه زموږ په هېواد کې چې مارکي یا په جرمنانو کې بارون دی. پلار یې، میرزا، ښایسته ښه شتمن و. پرېکړه شوې وه چې ځوان رستم به له یوې میرزاینې سره واده کوي. دواړه کورنۍ دې واده ته ډېرې لېوالې وې. تمه دا وه چې رستم به د خپل پلار او خپلې مور د زړه تسل وي، خپله ښځه به نېکمرغه کړي او ورسره به نېکمرغه وي

له بده مرغه هغه د کابل په مېله کې د کشمیر شاهزادگۍ لیدلې وه . دا مېله د دنیا په لویو مېلو کې حسابېږي او د بصرې او استرخان تر مېلو لا ډېر خلک ورته راځي.. ځکه خو د کشمیر پاچا ورته له خپلې لور سره راغلی و.

د کشمیر پاچا د خپلې خزانې دوه بې جوړې توکي ورک کړي وو. یو یې یو غټ الماس و چې د لور انځور یې په کې د هغه هنر په برکت کښل شوی و چې پخوا هندیانو درلوده خو اوس نه شته او بل یې یوه نېزه وه چې هر چېرته به چې د چا زړه وغوښته، هلته به تله. زموږ له پاره دا چندان غټه خبره نه ده، خو د کشمیریانو له پاره وه.

د اعلیحضرت په خدمت کې یو فقیر دا دوه خزانې غلا کړې او شاهزادگۍ ته یې ورکړې. ورته یې وویل: «دا دواړه شیان ښه وساته، ستا ژوند ورسره تړلی دی.» په خپله داسې ورک شو چې بیا چا و نه لیده. د کشمیر پاچا نیت وکړ چې د کابل مېلې ته ولاړ شي او وگوري چې د څلور کونجه نړۍ ټول سوداگر چې هلته راځي، کوم یوه سره خو به د ده الماس او وسله نه وي؟ هغه خپله لور په هر سفر کې له ځان سره بیوله. هغې خپل الماس کلک په خپل ملاوستني کې وتاړه او نېزه یې چې په اسانۍ نه شوه پټېدای، هغه یې په کشمیر کې په خپل چیني صندوق کې خوندي کړه.

هغې او رستم سره یو بل په کابل کې ولیدل. لکه څنگه چې د دوی د عمر سره مناسبه وه، په پوره اخلاص یې زړونه سره ورکړل. شاهزادگۍ د خپل لاس ښښخه، هغه قیمتي الماس ورکړ او رستم ژمنه وکړه چې په پټه به یې لیدو ته کشمیر ته ورځي.

ځوان میرزا دوه خواږه ملگري درلودل چې دواړه یې منشیان هم وو، شاطران یې هم وو او خدمتگاران یې هم وو. یو یې توپاز نومېده. ښکلی و. نازک کړه وړه، سپین رنگ لکه د ققفاز دچرکس سیمې ښکلې پېغله، په خدمت کې دومره راستمن لکه یو ارمنی، په هوښیارتیا کې کټ مټ له گبر. دویم یې ابنوس نومېده. ډېر ښکلی حبشي، تر توپاز ډېر هوښیار او په خدمت کې ډېر راستمن چې هېڅ کار ورته ستونزمن نه ښکارېده. د خپل سفر پلان یې له دې دواړو سره شریک کړ. توپاز ډېره هڅه وکړه چې د دې پروژې مخه ونیسي، د داسې محتاط خدمتگار په توگه چې نه یې غوښتل د خپل بادار زړه بد کړي، ورته یې ټول خطرونه بیان کړل: څنگه کولای شي چې دوه کورنۍ په اندېښنې کې پرېږدي؟ څنگه د خپلې مور او خپل پلار زړونه زخمي کولای شي؟ د رستم عزم یې و لړزاوه خو ابنوس ټینګ... ابنوس ببرته په خپله پرېکړه ودراوه او ټولې اندېښنې یې ترې لېرې کړې.

# ادبي ورشو



## د پسرلي ښکلا

د پسرلي هوا چلېږي گوره ښه موسم دی
که محبت ته دې زړه کېږي گوره ښه موسم دی
زه او ته دواړه د ځوانۍ نوي درشل ته درومو
نوی سپرلی رانه تېرېږي گوره ښه موسم دی
نرگس سینه خپله پرانیستې خوشبویي خپروي
د لاله سترگې نن غړېږي گوره ښه موسم دی
شین او زرغون تغر په ځمکه غوړوي پسرلی
غرونه رغونه زرغونېږي گوره ښه موسم دی
نوی کال گوره نوې نوې خوشالۍ راوړي
د ژوندانه پاڼه بدلېږي گوره ښه موسم دی
سپیڼي کوترې له تا ځار شم په تلوار را درومه
افغانان تا ته هوسېږي گوره ښه موسم دی
ډېر پسرلي مو سپري کړل ډېر کلونه تېر شول
عمر زمونږه نور کمېږي گوره ښه موسم دی
سهار وختي باد نسیم سره ملگرې راشه
عادل له تا ځنې بېلېږي گوره ښه موسم دی

نسیم شاه عادل

## لنډۍ

په زړه دې ډېر داغونه راکړل
ستا د جفا کیسې به چا چا ته کومه

په زړه مې غر د گیلو پروت دی
هله به یې وایم زه دې سر په زنگون ږدمه

په زنکدن مې راحاضر شه
چې په سلگو کې سترگې تا ته واړومه

په زیارتونو به جوړ نه شم
ما به د سپینې خولې آزار اخیستی وینه

په تورو ټوک ټوک شي مړ مشې
چې پرهرونه دې گنډم خوله درکومه

په مرگ دې نه مري جانان خوړ دی
په رنځ دې پرېوزي چې پوښتنې ته یې ورځمه

په مسافرو مې زړه نه سوو
اوس مې پرې سیزي چې مې یار مسافر شونه

په ناعلاجه مرض پروت یم
په آشنا دوه قدمه گران دې نه راځینه

په نیمه شپه راشه جانانه
د زړه تمبې مې نیمکښې پرې ایښې دینه

په وینو سور لکه گلاب شه
پښتنې ناوې به دې تور اوربل کې ږدینه

په یار مې ترخې زرغونې شوې
زه یې د دیدن په تمه یم چې رابه شینه

په یارانه دې پویه نه شوم
په جدایۍ دې لکه مالگه اوبه شومه

# مریدنامه ۱۷

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

د سرېخورو کلي ته ورسېدل، مريد هديره وليدله، ويې پوښتل : كه دا د سرېخورو كلى دى، نو دا قبرونه د چا دي؟

يوه كليوال ځواب وركړ: موږ د خپلو تربرونو د مړيو غوښې خورو او هډوكي يې په خورا درناوي خاورته سپارو.

ـ يوازې د تربرونو ؟

ـ هو! هر هغه تربور، چې په زمكه، پټي، اوبو يا بل ملكيت كې راسره شريک وي، نو كه زور مو پرې بر شي، وژنو يې، او كه نه په تمه يو، چې په خپل اجل ومري، بيا يې غوښې خورو او هډوكي يې ښخوو. پخوا مو د تربرونو ځوانان خوړل، خو اوس د كليوالو سترګي لا وږي شوي دي، د تربرونو د ښځو، بوډاګانو او ماشومانو غوښې هم خورو، هغوى هم وژنو او بس هډونه يې تر خاورو رسوو. هر تربور چې غوښې يې زموږ په حق ورسېږي، ښځې، يتيمان او ټول جايداد يې هم زموږ شي.

مريد وربرډېده، وډار شو او د خپل ببرسري پير لمنه يې ونيوله:

يا پيره دستګيره ! دا هرڅه ولې كيږي؟

پير موسک شو:

د دې كلي خلكو په دود دستور كې د تربور دوښمني دومره ژوره ده، چې د تربور وژنه يې د غيرت يوه برخه ګرځېدلې. ورو ورو يې دا هرڅه په مذهب كې هم ورشامل كړي دي. هرهغه دود چې د غيرت، مذهب او بل ( ښه سرېتوب) نښه وګرځي، كه هرڅومره (بد) هم وي، پرې ګروهمنو ته ( ښه) ښكاري.

د دې كلي په سندرو او ترانو كې د تربرونو د غوښو په خوړلو وياړنې يادېږي، ښځې اوپېغلې هغه نارينه خوښوي، چې دېرې وينې څښلاى شي، په زانګو ګانو كې د خپلوانو د وژلو او خوړلو للوګانې د ماشومانو په غوږونو كې انګازې كوي.

كه له دې كلي څخه هرڇا د دغه ناوړه دود ( دودونو) په وړاندې څه وويل، نو كليوال يې بې غيرته، ډارن، دود ماتوونكى او ان كافر ګڼي. ځوان كليوال، چې د نورو ټولنو انسانان يې ليدلي، په دې پوهيږي، چې دا دودونه سم نه دي، خو له دې ډاره چې څوک يې كافر يا بې غيرته ونه ګڼي، پر ټولو ناوړه دودونو چوپ او د خپلو پلرونو- نيكونو پر لارو روان دي.

... او مريد پوه شو، چې كه وژل او د انسان د غوښو خوړل د غيرت يا مذهب برخه شول، دوه يا درې نسلونه كافركړاى شوي او دار ته ختلي بويه، چې ايله دا دود بدل كړاى شي.




# د «ذهنيت جوړوونكې كيسې» تر عنوان لاندې كتاب د چاپ په ګاڼه سينګار شو

◆ د ۸صبح پښتو مجله

ذهنيت جوړوونكې كيسې كتاب ۱۲۳ مخونه لري، چې تازه په كابل كې چاپ شو. دغه كتاب د لنډو كيسو ټولګه ده چې ليكوال يې حضرت عثمان نوري دى.

ښاغلي نوري له ۸صبح سره په خبرو كې د دې كتاب په اړه وويل: «د لنډو كيسو دا ټولګه د بېلابېلو هغو ناسمو دودونو انځور دى چې زموږ پښتانه په كې له كلونو راهيسې كړيږي، مېندې بورې كېږي، خور بې وروره كېږي، يوه ناوې كونډېږي، يو ماشوم يتيمېږي او د كور انګړ ته د خوښيو پر ځاى تل پاتې بدمرغي راوړي.»

په دغه كتاب كې ليكوال هڅه كړې چې، د كيسو انځور په داسې ډول روښانه كړي چې په افغاني ټولنه كې د ناسمو دودونو او زړه بوږنوونكو پېښو مخه ونيول شي.

# په ناکامۍ اعتراف؛

## لږترلږه ۵۰ سلنه ملي عواید غلا شوي دي



◆ لیکوال: حسیب بهش
◆ ژباړن: م. ظ. صمیم

د ځوانانو د عالي شورا له پرانیستلو سره په یو وخت، د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني اعتراف وکړ چې په افغانستان کې له دولتي سرچینو په سمه توګه استفاده نه ده شوې. هغه زیاته کړه چې ارګ او یو شمېر نور بنسټونه په دې کار کې ناکام وو او باید پر دې خبره اعتراف وکړو. له دې سره په یو وخت، ولسمشر غني جوته کړه چې لږ ترلږه ۵۰ سلنه ملي عواید غلا کېږي. هغه زیاته کړه چې اړتیا ده ځوانان له مالیې وزارت سره ملي بحث وکړي او د څارنې بهیر پرغاړه واخلي. د ولسمشر په وینا، هرڅوک چې د عوایدو د زیاتوالي او په هغې کې د روڼتیا لپاره تر ټولو ښه طرحه وړاندې کړي، د تدارکاتو قانون پربنسټ دې جایزه ورکړل شي. هغه همداراز وویل چې د طرحو مالکیت باید ځوانان په لاس کې واخلي. د ولسمشر په وینا، د حکومت اساسي موخه د ملت جوړونې بهیر دی او ځوانان باید اجازه ورنه کړي چې وحدت او یووالی یې له خطر سره مخامخ کړي. ولسمشر په داسې حال کې د ملي عوایدو د حیف ومیل یادونه کوي چې مالیې وزارت په ۱۳۹۹ مالي کال کې کابو ۱۷۶ میلیارده افغانۍ راټولې کړې وې.

ولسمشر محمد اشرف غني وایي چې په افغانستان کې دولتي سرچینې په سمه توګه نه دي کارول شوې او کابو ۵۰ سلنه ملي عواید غلا کېږي. هغه د ورې په اتمه نېټه د ځوانانو د عالي شورا په لومړۍ ناسته کې د وینا پرمهال، ارګ او ځینې نور بنسټونه له دولتي سرچینو په استفاده کې ناکام وبلل. نوموړي زیاته کړه چې په دې برخه کې د افغانستان اداره ناکامه ده او باید پرې اعتراف وکړو. د ولسمشر غني په وینا، بې ځایه معاشونه ورکړل شول چې کومه پایله یې نه لرله. ښاغلي غني ان ټي اي معاشونه د بېلګې په توګه یاد کړل او وې ویل چې له هغې په سلګونه ډوله ناسمه استفاده شوې ده. د ولسمشر په باور، دا کار د مالیې وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو د کمېسیون او یو شمېر نورو ادارو له خوا شوی دی.

د ولسمشر غني په وینا، دا کار له سرچینو معقوله استفاده نه ده. هغه له ځوانانو وغوښتل چې په دې برخه کې د څارونکو رول ولوبوي؛ ځکه دولتي سرچینې د خلکو دي. ښاغلي غني جوته کړه چې په همدې دلیل باید کله چې ځوانان د سرچینو ناسم کارول ویني، بدیلې طرحې ورته برابرې کړي؛ ځکه د هغه په وینا، په دې برخه کې ځوانانو ته اړتیا ده او که دوی په دې برخه کې همکاري وکړي، حکومت په همدې پیسو ځینې پروژې له پینځو تر لسو برابرو کارولی شي. ولسمشر زیاته کړه چې باید یو اخلاقي او ټولنیز قرارداد موجود وي ترڅو په اداره کې د هر ځوان په شته والي کې د افغان مېرمنې، افغان ځوان او بې وزلو پرګنو په وړاندې د دوی مسوولیت په روښانه توګه تشخیص کړي. ولسمشر همداراز له ځوانانو وغوښتل چې له ادارو اخلاقي تضمین واخلي. هغه د ځوانانو د مشرتابه شورا غړو ته په خطاب کې وویل: «لومړی دا چې باید تاسو ټول ځوانان له اداري اخلاقي تضمین واخلئ. تاسو باید د هغه ځوان په وړاندې چې فساد کوي، تعصب ته لمن وهي او ملي یووالي ته زیان رسوي، یا هم واقعاً د کار وړتیا نه لري، ودرېږئ؛ ترهغه چې دا کار ونه شي، موږ مخکې نشو تلای.»

د ولسمشر په وینا، د تېرو ۴۲ کلونو بدبختي له دې ځایه پیل شوه چې ځوانان یې سره ووېشل، ځوان نسل یې متعصب کړ او د ځوان نسل کوچنۍ هویت یې د یو بل په وړاندې ودراوه. ولسمشر غني وایي چې اساسي موخه مو، ملي یووالی، د اساسي قانون ارزښتونه او د هېوادوالو برابري ده؛ ځکه که دولت د برابرۍ اصل ته پام ونه کړي او ټول افغانستان ته یو شان خدمت ونه شي، تفرقه رامنځته کېږي. هغه زیاته کړه چې د ځوانانو عالي شورا باید په بېلابېلو برخو کې منظمه آجنډا ولري او د اړوندې عالي شورا هرې ناستې ته د ځوانانو عالي شورا ځانګړې نظریات ولري. په دې توګه د ځوانانو عالي شورا باید د هر وزارت او دولتي اداري لپاره ځانګړې وړاندیز ولري.

ښاغلي غني زیاته کړه چې د ننه په دولت او بهر کې د پراخو ولسي شبکو په توګه په خپل منځ کې ارتباط ټینګ کړي او د ځوانانو عالي شورا باید د رغنده بحثونو په مرکز بدله شي. ولسمشر وویل چې په هېواد کې ۴۲ کلنې جګړې او د سولې له حقه بې برخې کېدو ته په پام سره، باید افغان ځوانان عادل نظام پیاوړی او لوری ورته وټاکي. ښاغلي غني جوته کړه چې د هېواد په هره سیمه کې ځوانان دي او پرته له دې چې ځوانان ځانونه بېګانه کړي، هېڅوک نه شي کولی دا مالکیت له هغوی واخلي. د ولسمشر په باور، هېواد تل یو موټی دی او هېڅکله یې د بېلتون شعار نه دی ورکړی. ولسمشر زیاته کړه چې ځوانان هم باید اجازه ورنه کړي چې څوک یې ملي یووالی له خطر سره مخامخ کړي. نوموړي زیاته کړه چې باید ظرفیتونه تشخیص شي او د افغانانو ظرفیتونه باید د دوی د نوښت له لارې په اساسي توګه لوړ شي.

ولسمشر غني په داسې حال کې د ملي بودیجې د نیمایي برخې د حیف و میل خبره کوي چې د مالیې وزارت په ۱۳۹۹ کال کې کابو ۱۷۴ میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي دي. په دې توګه که دا بې ځایه لګول شوې پیسې پر ټولو عوایدو ورزیاتې شي، د ۱۳۹۹ مالي کال عواید ۳۴۸ میلیارده افغانیو ته رسېږي. له دې مخکې نړیوالو څارونکو بنسټونو هم ویلي و چې د افغانستان د ګمرکونو نیمایي عواید حیف و میل کېږي.

# اروپايي هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو ارزول

◆ ليکوال: شيرمحمد فرخ
◆ ژباړن: م. ظريف. صميم

افغانستان لـه هغـو ۴۸ هېوادونـو څخـه دی چـې اروپـا تـه صـادرات کولـی شـي. دا سيمه د ۵۰۰ ميليونـه وګـړو پـه لرلو سره چـې د پېرلو لوړ ځـواک لـري د نړيوال تجارت لپاره يو مناسب بـازار ګڼـل کېږي. اروپـا تـه د افغانستان ترټولـو مهم صـادرات غالـي، زعفـران، وچه مېوه، ګرانبيـه ډبـرې او کرنيـز محصـولات دي. خـو لـه ګاونډيـو هېوادونـو د ورتـه توکـو صادراتـو تـه پـه پام سره، افغانسـتان لـه سيالۍ ډک دغـه فرصتـه څـه ډول ګټـه پورتـه کـړې ده؟ پـه دې ليکنـه کـې دا موضوع ارزوو.

**د مخ پر ودې او لـږ پرمختللو هېوادونـو د اقتصادي بهير د پراختيـا پـه خاطـر، د سـوداګرۍ نړيـوال سـازمان د GSP پـه نـوم پروګـرام تصويب کـړی چـې پربنسـټ يـې مخ پر ودې هېوادونه کولای شـي پرمختللـو هېوادونـو تـه صادرات ولـري. پـه همـدې چوکاټ کـې، اروپايـي ټولنـې لـه ۲۰۰۱ ميـلادي کال وروسـته د اې بـي اې يـا ((Everything but Arms پـه نـوم پروګرام پيـل کړ. افغانسـتان چـې د ملګروملتونـو سـازمان د نوملـړ پربنسـټ يـو لـږ پرمختللـی هېـواد دی، د EBA د پـلان پـه چوکاټ کـې خپـل ټول صادراتـي توکـي پـه صفـر تعرفـې او کـم محدوديـت سـره اروپـا تـه صادرولـی شـي. پـه دغـه چوکاټ کـې يـوازې د وسـلو صـادرات منعـه شـوي دي.**

خـو لـه دغـه فرصتـه د افغانسـتان ګټـه اخيسـتل لـه ۲۰۱۷ تـر ۲۰۱۹ کال پـورې د هغـو نـورو هېوادونـو پـه پرتلـه چـې د نومـوړي پروګـرام پر بنسـټ اروپا ته صـادرات لـري، ارزول کېـږي. د لازيات وضاحـت لپاره د افغانستان صادراتـي توکـي لـه دربيـو هېوادونو سره چې لـه اې بي اې پروګرامـه يـې پراخـه ګټـه پورتـه کـړې پرتلـه کـوو. بنګلادېـش پـه لومـړي سـر کـې دی او پـه لـږ پرمختللـو هېوادونـو کـې يـې اروپـا ته تر ټولـو زيـات صادرات کړي دي. لـه هغـې وروسـته کمبوديـا او موزامبيک دي چـې د اقتصـادي وضعيـت او وګـړو د شـمېر لـه پلوه له افغانسـتان سـره د پرتلـې وړ دي. خـو د EBA پروګـرام لـه مخـې لـه دغـو دربيـو هېوادونـو سـره د افغانسـتان د صادراتـو ارزښـت ډېـر کـم دی.

د سـويلي آسـيا لـه هېوادونـو بنګلادېـش او کمبوديـا اروپـا تـه تـر ټولـو زيـات صـادرات لرلـي دي. ددغـو دوو هېوادونـو صادراتـو تـه پـه کتـو، دې پايلـې تـه رسـېږو چـې د دوی مهـم صادراتـي توکـي جامـې او نـور دې تـه ورتـه محصـولات دي. دغـه هېوادونـه پـه پراخـه کچـه توليد او د نړيوالـو سـتندردونو پـه رعايتولـو سـره، اروپـا تـه مهـم صادروونکي دي.

**اروپـا تـه د افغانسـتان صادراتـي توکـي يـوازې څـو قلمـه لکه وچه مېـوه، زعفـران او ګرانبيـه ډبـرې دي خـو سـره لـه دې ۲۰۱۹ کال پـه اويـا ميليـون ډالـرو سـره اروپـا تـه د افغانسـتان د صادراتو لپاره تـر ټولـو ښـه کال ګڼـل کېږي. لـه بلـې خوا، د ۲۰۱۹ کال شـمېرې ښـيي چـې اروپـا تـه د اويا ميليون ډالرو له صادراتو سـره سـره، پـه دې کال کـې لـه اروپـا څخـه د وارداتـو کچـه د ۱۳۶ ميليـون ډالـرو پـه انـدازه وه.**



د EBA پروګرامونـو لـه مخـې، اروپـا تـه د افغانسـتان د صادراتـو د پراختيـا لپاره، افغانسـتان کولـای شـي د هغـو هېوادونو صـادرات تجربه کـړي چـې لـه دغـه پروګرامـه پـه اسـتفادې سـره د صادراتـو پـه برخـه کـې پـه لومـړي سـر کـې وو. اروپا تـه د بنګلادېش او کمبوديـا صادرات تراوسـه هـم يـو شـان دي. دغـه دوه هېوادونـه پـه پراخـه کچـه جامـې صـادروي. دغـې تجربـې تـه پـه پام سره، افغانسـتان کولـی شـي ټول هغـه محصـولات چـې اقتصـادي ګټـه يـې زياتـه ده، د اروپا په سـتندرد سره دغـې سـيمې تـه صادر کـړي. لکـه څنګـه چـې د بنګلادېـش پـه اړه ليـدل کېـږي، لـه چيـن وروسـته اروپـا تـه تـر ټولـو زياتـې جامـې صادروي.

پـه همـدې توګـه موزامبيک چې يو لـږ پرمختللی افريقايي هېواد دی، اروپـا تـه المونيـم او نـور کاني توکـي صادروي. يـوازې المونيـم اروپا ته د دغـه هېـواد د ټلنيو صادراتو شـپېته سـلنه جوړوي.

**خـو هغـه څـه چـې افغانسـتان لـه دريـو يادو شـويو هېوادونو سـره پـه توپيـر کـې راولـي، جغرافيايـي موقعيـت او پـه وچـه کـې راګير والـی يـې دی. ياد هېوادونـه هـر يـو د خپلـو سـمبال سـمندري بندرونـو لـه لارې خپـل سـوداګريز توکـي د اروپـا ارزښـتمنو بازارونـو تـه صادروي؛ پـه داسـې حـال کـې چـې افغانسـتان يوازې د کراچـۍ بنـدر او يـا هـم د هوايـي دهلېـز لـه لارې صادرات لري. د افغانسـتان د صادراتـو دواړه لارې محـدودې او زيانمنونکې دي.**

همداراز، افغانسـتان لـه بلـې سـتونزې سـره مخامخ دی، هغـه څه چې يـو شـان توکـي بلـل کېـږي د افغانسـتان پـه ګاونډيـو هېوادونـو کـې توليد او لـه لازياتـو امکاناتو سـره اروپـا تـه صادرېږي. د بېلګـې په توګه پاکسـتان، هنـد او ايـران پـه لاس جـوړ شـويو غاليـو پـه صادراتـو کـې مخکـې دي او پـه دې برخـه کـې د اروپـا بازارونـه پـه واک کـې لري.

پـه لنـډه توګـه، پـراخ توليـد، د اروپايـي سـتندردونو رعايتـول او غـوره ترانسـپورتي سيسـتم لـه افغانسـتان سره لـه EBA پروګرامـه د ښـې ګټـې اخيسـتو پـه برخـه کـې مرسـته کـولای شـي. د پورتنيو عواملـو ارزول که څـه هـم د الفاظـو پـه چوکاټ کـې کوچنـي ښـکاري؛ خـو پـه عملي کولو کـې يـې جديـت، وخـت او کافـي سرچينـو تـه اړتيا ده.

# اوبه او په افغانستان کې د اوبو د مدیریت ستونزې



◆ لیکوال: حسیب بهش
◆ ژباړن: محمد عزیز پردېس

اوبه یوه طبیعي سرچینه ده او د ژوندیو موجوداتو دغې حیاتې مادې د ځمکې د کُرې ډېره یعنې د ځمکې کابو ۷۱ سلنه برخه اوبو نیولې، خو هغه برخه چې د ځمکې د مخ د موجوداتو په تېره بیا انسانانو د بقا لپاره ده، له ټولو اوبو درې سلنه ده چې د بشري ژوند لپاره د استفادې وړ دي او د خوږو اوبو په توګه یادېږي. خوږې اوبه په سیندونو، چینو، کنګلونو، ډنډونو، لندمهاله سطحي او ترځمکې لاندې زېرمو کې دي چې د نړۍ د وګړو د شمېر زیاتوالي او د سپکو او درنو صنایعو پراختیا ته په پام سره چې د تولید په برخه کې اوبو ته اړتیا لري، د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د اوبو سرچینو ته د انسانانو لاسرسی له ستونزو سره مخامخ شوی دی. د ملګروملتونو سازمان د رپوټ له مخې، ۱،۲ میلیارده وګړي (د ټولې نړۍ ۱۸ سلنه) د څښاک پاکو اوبو له کمښت او نه لاسرسي کړېږي.

**افغانستان په کال کې په منځنۍ توګه د ۲۵۰ میلي متره اورښتونو په لرلو، په کال کې د ۷۵ میلیارد متر مکعبه خوږو اوبو د تولید ظرفیت لري چې یوازې له شل سلنې یې استفاده کېږي چې کابو ۲۵ میلیارد متر مکعبه اوبه کېږي. ډېره برخه دغه اوبه په بېلابېلو لاملونو ضایع کېږي. د ملګروملتونو سازمان او کابل پوهنتون د رپوټ له مخې، په افغانستان کې د سړي سر اوبه ۲۷۷۵ متر مکعبه دي چې ډېره برخه یې ضایع او یا هم په سمه توګه ترې کار نه اخیستل کېږي. د سالم مدیریت په صورت کې، د برېښنا په شان د تولید په برخه کې ترې کار اخستل کېدای شي.**

د تاریخ په اوږدو کې هغه څه چې د افغانستان لپاره د مدني او اقتصادي پرمختګ او یا هم سیاسي ستونزو لامل بلل شوي، دوو برخو ته اشاره کولی شو چې یو ځانګړی ژوپولیټک موقعیت او بل هم پراخې سرچینې له هغې جملې اوبه دي. ددغو دوو عواملو رول په نړۍ کې د قدرت له سیاسي انډول سره یو ځای و. کله چې افغان دولت په نړیواله کچه اغېزناک رول لرلی، د هېواد د طبیعي سرچینو کنټرول د بهرنیانو د پام وړ ګرځېدلی چې یا قانوني پانګونه پکې شوې او یا هم ناوړه لاسوهنې د مدیریت لپاره د رامنځته شویو فرصتونو په وړاندې خنډ شوي دي.

**موسمي بدلونونه؛ د افغانستان د اوبو سرچینو د مدیریت لپاره یو فرصت**

هغه د خطر زنګ چې د نړۍ پام یې واړولی دی، د ځمکې تودوخه او موسمي بدلون دی چې هم د افغانستان او هم د هېواد د اوبو د حقوقي او غیرحقوقي ګټه اخیستونکو لپاره د خطر دغه زنګ وهل شوی دی. دا چاره د اوبو هر اړخیز او غوره مدیریت ته اړتیا لري. له دې امله چې د افغانستان د سیندونو د تغذیې یوازینۍ سرچینه لږ شمېر دایمي کنګلونه او اورښتونه دي، د افغانستان جغرافیایي او موسمي موقعیت ته په پام سره د هېواد د اوبو سرچینې د موسمي بدلونونو او ځمکې د تودوخې له امله زیانمنېږي او د اوبو غوره او علمي مدیریت ته اړتیا لري. دا مدیریت کورنی سیاسي ثبات، پیاوړي حکومتولي، ملي پروګرام او اوږدمهاله او روښانه تګلارو ته اړتیا لري. د موسمي بدلون مسله لکه څنګه چې په تېرو دوو لسیزو کې زیاته شوې، په نړیوالې ستونزې بدله شوې ده. په بېلابېلو هېوادونو کې د سالم مدیریت له پروګرامونو، د نړیوالو کنوانسیونونو او بنسټونو له خوا څارنه کېږي. دا د افغانستان په شان هېواد لپاره ډېر اغېزمن او مناسب فرصت دی چې د نړیوالو مراجعو له لارې له خپلو ګاونډیو سره د اوبو د سرچینو د حقوقي

سـتونزو د اواري لپاره اسـتفاده او له هغې د ګډو هراړخيزو اقتصادي ګټـو لپـاره کار واخلـي. په دغه راز شـرايطو کې چې د اوبو د مديريت پـروژو عملـي کـول د دولت لومړيتـوب دی د هېواد د اوبـو د مديريت پـه موخه ښـه فرصت برابر شـوی دی.

**د مديريت په برخه کې د دولتي بنسټونو ترمنځ همغږي**

هغـه څـه چـې د هېـواد د اوبـو د مديريت پـه برخه کې اړين برېښـي، د دولتـي ادارو ترمنـځ همغـږي ده. موسـمي بدلونونه او لـه امله يې د اوبـو کمښـت تـه پـه پام سـره چې د اوبـو د کارولـو د نورمونـو د بدلون لامـل هـم کېـږي د ارزښـت وړ دي. له دې امله چې د افغانسـتان اتيا سـلنه د اوبـو سـرچينې پـه کرنيـزو چـارو لګـول کېـږي، پـه دې برخه کـې د کرنـې رول مهـم بلل کېږي او اړينه ده چې په دې برخه کې د بېلابېلـو هېوادونـو تجربـو ته په پـام سـره لازم بدلونونه رامنځته شـي. لـه دې املـه، د صنعـت، کانونـو، روغتيـا، د ژونـد چاپېريـال، پوهنـې، لـوړو زده کـړو او ښـاروالۍ ځانګـې هغـه بنسـټونه دي چـې د اوبـو د سـرچينو پـه مديريت کـې د دوی همغږي فعاليتونه مهـم رول لوبوي.

**د اوبـو د مديريت پروګرامونـو ملـي کـول او پـه دې هکلـه عامه پوهاوی**

د اوبـو د اسـتفادې پـه برخه کې د سـېما سياسـتونه او د هېواد د اوبو پـه مديريت کـې د دولتـي ادارو ترمنـځ همغـږي اړينـه بلـل کېـږي؛ ځکـه د طبيعـي سـرچينو پـه کارولـو کـې د وګـړو ځلنـد ډېـر اغېزمـن دي چـې دا چـاره د اوبـو پـه مديريت کـې اغېزمنـه کېـدای شـي. د اوبـو د سـرچينو پـه مديريت کـې د نظر د يووالـي لپاره بايـد دولت له ښـوونيزو او تحصيلـي بنسـټونو او جوماتونـو کار واخلـي چـې حقوقي ذهنيـت پـه يـوې اکاډميکـي او ملـي مفکـورې بـدل کـړي. دا کار پـه علمـي او تحقيقـي بحثونـو، کنفرانسـونو، د اوبـو د مديريت پـه اړه څېړنـو د زمينـو پـه برابرولـو او مديريتـي تـګلارو سـره خلاصـه کېـږي.

**د تخنيکي او مسلکي ظرفيتونو لوړول**

**پـه هېـواد کـې څلـور لسـيزي جګـړې چـې تراوسـه يـې هـم د ټولنـې او دولتي بنسـټونو پر ټولو جوړښـتونو سـيوری غوړولی، لـه ډېـرو کلونـو راهيسـې د علمـي او مسـلکي ظرفيتونـو د ودې فرصتونـه تـرې اخيسـتي او پـه افغـان دولت کې د ښځ بنسـټونو پـه تېـره بيـا د اوبـو د مديريت پـه برخـه کـې يـې کمزورتيـا رامنځتـه کـړې. څېړنـه، عملـي کـول، مديريت، څارنـه او تـول هغـه فعاليتونـه چـې د هېـواد د اوبـو د سـرچينو د مديريت لپاره پـه پـام کـې نيـول کېـږي، د علمـي او مسـلکي ظرفيتونـو ودې تـه اړتيـا لـري چـې د اوبـو د مديريت پـه برخـه کـې لـه نړيوالـو علمـي پرمختګونـو سـره ګام پـه ګام پرمختـګ وشـي او د پوهـې لـه کاروانـه وروسـته پاتـې نـه شـي.**

افغانسـتان پـه اوسـنيو شـرايطو کـې د اوبـو سـرچينو د مديريت او اوبـو د کنټرولولـو موخـې تـه د رسـېدو لپـاره بايـد د اوبو د سـرچينو د مديريـت پـه تګلاره کـې، د امنيت ټينګښـت، سياسـي ثبات او له هغو ګاونډيـو هېوادونـو سـره چې لـه اوبو ګټه پورتـه کوي اړيکو تـه پاملرنه وکـړي او پـه دې برخـه کـې د نړيوالـې ټولنـې او سـرچينو لـه جلبولـو سـره سـره، د اړونـدو بنسـټونو ترمنـځ همغـږي رامنځته کـړي او د اوبو مديريت پـه علمـي بحث بـدل کـړي. همـداراز د مسـلکي او علمـي کدرونـو د ظرفيتونـو لوړولـو تـه جدي پاملرنـه وکړي.

# پـه جلال آباد کـې د ګوزڼ ضد واکسين درې ښځينه کارکوونکې ووژل شوې



◆ د ۸صبح پښتو مجله – ننګرهار

د وري پـه لسـمه نېټـه شـاوخوا ۱۱بجـې د جلال آباد ښـار پـه بېلابېلو سـيمو کـې د ناپېژاندو وسـله والو له خوا درې ښـځينه واکسـيناتورانې پـه ډزو سـره ووژل شـوې.

د ننګرهـار ولايتـي چارواکـي وايـي چـې د معلوماتـو لـه مخـې لومړۍ پېښـه د اوومـې ناحيـې اړونـد لال قاسـم آغـا سـيمه کـې شـوې چـې پـه کـې دوه ښـځينه واکسـيناتورانې وژل شـوې او دوهمـه پېښـه د څلورمـې ناحيـې اړونـد مجبورآبـاد سـيمه کـې رامنځته شـوې چې يوه واکسـيناتوره پـه کـې وژل شـوې ده.

د ننګرهـار امنيـه قومندانـۍ پـه ننګرهـار کـې د ۸صبح خبريـال تـه لـه پرلـه پسـې اړيکـو وروسـته وويـل، پـه دې اړه بـه وروسـته معلومات شـريک کـړي.

پـه ننګرهـار کـې لـه تېـرو شـاوخوا درېيـو مياشـتو راهيسـې ۸ ښـځې وژل شـوې دي.

تـر دې پېښـې کابـو يـوه مياشـت مخکـې د انعکاس خصوصـي تلوېزيـون درې کارکوونکـې، پـه همـدې مـوده کـې د ننګرهـار سـيمه ييـز روغتـون يـوه ډاکتـره او تـر دې شـا وخـوا درې مياشـتې وړانـدې د انعکاس خصوصـي تلوېزيـون ويانـده ملالـه ميونـد ووژل شـوې.

د يادونـې وړ ده چـې پـه دې وروسـتيو کـې تـر ډېـره د دغه ډول پېښـو او د ښـځينه وو د تـرور مسـؤليت داعـش ډلـې پـر غاړه اخيسـتی دی.

# په کندهار کې یوه امیندواره مېرمن ووژل شوه او ماشوم یې ټپي شو



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**
◆ **احمد شاه شاداب ـ کندهار**

په کندهار کې د هدفي بریدونو د لړۍ په دوام یوه امیندواره مېرمن هغه مهال ووژل شوه چې خاوند یې روغتون ته لېږدوله.

دغه وسله وال برید د کندهار یوولسمې امنیتي حوزې اړوند سیمه کې شوی دی.

د کندهار امنیه قومندانۍ ویاند جمال ناصر بارکزي ۸صبح ته وویل چې، د شپې شاوخوا ۸ بجې د یوولسمې امنیتي حوزې جنایي آمر اسدالله غوښتل خپله مېرمن د ماشوم د زېږون په موخه نږدې روغتیایي مرکز ته ورسوي چې په لاره کې پرې برید وشو او په پایله کې یې مېرمن ووژل شوه او خاوند یې ټپي دی.

د کندهار روغتیایي مسؤلین وایي، د وژل شوې مېرمنې نوی زېږېدلی ماشوم یې په ټپي حالت کې ژغورلی او دمگړی ماشوم او پلار یې تر درملنې لاندې دي.

د دې پېښې مسؤلیت تر دې دمه کومې وسله والې ډلې په غاړه نه دی اخیستی.

# پاکستان یو ځل بیا پر کونړ راکټي بریدونه کړي



◆ **۸صبح، ننگرهار**
◆ **حفیظ الله علي خېل**

پر کونړ ولایت د پاکستان له لوري توغندویي بریدونو کې یو تن وژل شوی او دوه ټپیان دي.

د کونړ والي اقبال سعید ویلي، پاکستاني ځواکونو د دغه ولایت پر سرکانو ولسوالۍ ۱۶ توغندي توغولي، چې له امله یې یو ځوان وژل شوی او دوه تنه نور کسان ټپیان شوي دي.

په کونړ ولایت کې یوې امنیتي سرچینې ۸صبح ته وویل چې، د پاکستان له لوري توغول شوي توغندي د سرکانو ولسوالۍ اړوند سیمو باندې لگېدلي دي.

د یادونې وړ ده، چې له تېرو څو کلونو راهیسې پاکستاني ځواکونه پر کونړ او ننگرهار ولایتونو راکټي بریدونه کوي چې له امله یې سلگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

# په ننګرهار کې د نارنج ګل دودیزه
# مېله او مشاعره ترسره شوه

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ حفیظ الله علي خېل ـ ننګرهار

په ننګرهار کې د نارنج ګل سږنۍ مشاعره او مېله له یو شمېر نوښتونو سره جوړه شوه.
دغه مشاعره چې سږکال د جلال آباد ښار د عدم تشدد د سرلاري خان عبدالغفار خان په مزار کې جوړې شوې وه د هېواد له ګوټ ګوټ او له بهره ورته ګڼ شمېر شاعران، ادیبان او فرهنګیان رابلل شوي ؤ.
د مشاعرې له ځایه بهر بیا ځینو نیوکې درلودې چې «د ننګرهار د سې شنبې ورځې پېښه او په مقبره کې ساز او آواز»، خو په مشاعره کې د دغې پېښې یادونه وشوه او ټولو یې په اړه خواشیني څرګنده کړه.
د یادونې وړ ده چې د روان کال د وري میاشتې په لسمه، یعنې د نارنج ګل مشاعرې په ورځ په ننګرهار کې د ګوزڼ ضد کمپاین درې واکسیناتورانې په جلال آباد ښار کې په دوو بېلابېلو بریدونو کې ووژل شوې.
د ننګرهار والي ضیاالحق امرخېل د نارنج ګل مېلې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ د ولسمشر غني پیغام ولوست او د ننګرهار د سې شنبې ورځې پېښې د قربانیانو کورنیو ته یې د تسلیت مراتب وړاندې کړل.
د ننګرهار والي په خپلو خبرو کې وویل: «پر ښځو برید نه بښونکی عمل دی. هغوی چې برید یې کړی، د پښتونولۍ، انسانیت، افغانیت او اسلام څخه ناخبره او یوازې ترهګر او جنایت کاران دي.»
هغه هیله څرګنده کړه چې شاعران دې د اسلامي، ملي او انساني ګټو او حقوقو لپاره دغه ډول بزدلانه کړنې وغندي او د ملي ګټو، سولې، فرهنګ او آبادۍ لپاره دې په خپلو شعرونو کې فکر جوړونې ته کار وکړي.
د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس رحیم الله خوږیانۍ وویل چې، د نارنج ګل سږنۍ دودیزې مېلې او مشاعرې ته مو یوه نوې بڼه ورکړې، چې د مشاعرې ترڅنګ دودیزې، فرهنګي او ټولنیزې نندارې او د سندرغاړو کنسرتونه او د تیاتر نندارې هم پکې شاملې شوې وې.
د نارنج ګل دودیزه مېله او مشاعره د هېواد نوموتي سندرغاړي جاوېد امرخېل په غږ د غزل په ویلو سره پیل شوه. له هغې وروسته مخکښو شاعرانو بازمحمد عابد، محبوب شاه محبوب، بخت زاده دانش، ممتاز اورکزي، رمضان صایم، ضیاالدین همت مل، جاوېد دلدار، عزت الله ځواب او ګڼو نورو خپل شعرونه دکلمه کړل او د ګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخ شول.
د نارنج ګل سږنۍ مشاعره د نورو کلونو سره په ښکاره توپیر، ماښام ترسره شوه چې د امنیت له پلوه یې اندېښنې لرلې، خو له کومې جدي پېښې پرته پایته ورسېده.
د هېواد په ختیځ ننګرهار کې د «نارنج ګل ملي مشاعره»، په شمال زون کې د «ریدي ګل ملي مشاعره» او د «شمال دودیزه کلنۍ مشاعره»، په وردګو کې «مڼې ګل مشاعره» او په کندهار کې د «انار ګل مشاعره» هغه دودېزې میلې او مشاعرې دي چې د هر هجري لمریز کال په پیل او د پسرلي په لومړیو ورځو کې ترسره کېږي. د یادونې وړ ده چې د نارنج ګل لومړنۍ مېله او مشاعره په ۱۳۴۴ هجري لمریز کال کې د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال د پښتو ټولنې په نوښت په رسمي بڼه د وري په ۱۹مه نېټه د جلال آباد ښار په سپین غر هوټل کې ترسره شوې وه.



# د اپل شرکت مـالک

# سټیو جابز د بریالیتوب ٦ رازونه

◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

د ټکنالوژۍ او ډیجیټلـي نـړۍ متفکر مغز، هغه څوک چې د سـتونزو لـه دریابـه راپورتـه شـو او اوس پـه ټولـه نـړۍ کـې دروند او ښـه نـوم لـري. هغـه پـه ماشـومتوب کـې ډېـرو سـتونزو سـره مـخ و او وروسـته لـه ٦ میاشـتو لـه پوهنتـون څخـه ووېسـتل شـو. دا نـو هغـه وختونـه و چـې نومـوړي په ډېرې سختۍ سـره د خپلـې ورځنـۍ ډوډۍ مصارف پیـدا کـول؛ خـو هغـه وروسـته لـه ډېرې مبـارزې بریالـی شـو او په دې وتوانېـده چـې پـه ډیجیټلـي نړۍ کې سـتر بدلـون رامنځ ته کـړي او د یـو لـوی شـرکت بنسـټ کېـږدي. هـو! دا بـل څوک نـه، دا سـټیو جابز دی، د اپل شـرکت بنسـټ ایښـودونکی او مالک. هغه څوک چې اوس یـې پـه ټولـه نـړۍ کې خلـک پېژنـي او د زحمتونو احسـانمند یې دي. پـه دې لیکنـه کـې بـه د سـټیو جابـز د بریالیتـوب ٦ رازونـه لـه تاسـو سـره شـریک کـړو.

**۱- متفاوته واوسئ او متفاوت فکر وکړئ**

پـه دې برخـه کـې د سـټیو جابـز وړاندیـز دا دی چـې باید متفاوتـه واوسـو او لـه نـورو مو توپیـر مالوم او څرګنـد وي. هغه ټولو هغو کسـانو تـه چـې د سـوداګرۍ نیـت لـري دا توصیه کـوي چـې مخکـې د کار له پیـل څخـه متفـاوت پاتـې کېـدل خپـل لومړیتـوب وګرځوي.

**۲- راتلونکې ته هیله من اوسئ او اوږدمهالی لید ولرئ**

سـټیو جابـز وایـي: تاسـو بایـد د تجـارت او کار او بـار پـه پیـل کـې د درامـد یـا عایـد تمـه ونلرئ او د دې پرځـای هڅه وکړئ چې خلکو ته خپـل مسـلکي تـوب، ربښـتینولي او اعتمـاد ثابت کـړئ. هغـه پـه دې بـاور دی چـې د لنډمهالـي فکـر پرځـای بایـد اوږدمهالـي فکـر تـه مـو پاملرنـه جـدي کـړئ.

**۳- له هغه کاره چې خوند اخلئ، ویې کړئ**

جابـز وایـي، مخکـې لـه دې چـې یـو کار، تحصیلـي څانګـه او مسـلک ټاکـئ؛ نـو هـرو مـرو بایـد خپـل علایـق، مینـه او ذوق پـه پـام کـې ونیسـئ. هغـه ټاکید کـوي چې باید په خپله خوښـه تحصیلـي څانګه، مسـلک او کار انتخـاب کـړئ او خپـل مسـلک سـره بایـد د زړه لـه تلـه مینـه ولرئ.

**۴- تل د نویو مالوماتو په لټه کې واوسئ**

د جابـز پـه نظـر، تـل پـه دې خاورینـه نـړۍ کـې د زده کړې لپـاره نوي څـه شـته. د بېلګـې پـه توګه، حتی تاسـو کولی شـئ چـې د پېرودونکو د خبـرو اتـرو څخـه هـم نوي څـه زده کـړئ. مطلب دا چـې د هغوی له خبـرو د خپـل تجارت د رونـق او تنـوع لپـاره ډېـر څـه زده کولی شـئ. نـوي، کـره او تـازه مالومـات مو لـه سـیالانو څخه مخکې کولی شـي.

**۵- د تجارت روحیه باید ولرئ**

د سـټیو جابـز پـه بـاور بایـد تـل د تجـارت او سـوداګرۍ په نـړۍ کې د نویـو او لویـو نظریـو او ایډیـو پـه لټـه کـې واوسـئ. هغـه ایډیـې چـې د تحقـق او لاسـته راوړو وړ وي. د تجارت پـه نـړۍ کـې معمـولا لومړنـی ګام اخېسـتل خورا سـخت او دروند وي، نو په دې برخه کې شجاعت اړین دی.

**۶- خپله وروستۍ هڅه مو وکړئ**

جابـز وایـي: د سـوداګرۍ او تجـارت پـه نـړۍ کـې بایـد د خپـل کار د ښـه والـي لپـاره خپلـه وروسـتۍ هڅـه وکـړئ. دا چـې په کوم شـغل یا مسـلک کـې بوخـت یاسـت، مهمـه نـه ده؛ بلکـې مهمـه دا ده چـې په خپـل ټاکلـي مسـلک کـې بریالـي واوسـئ او د راتلونکـو بریالیتوبونو ته مـو هـم لاره هـواره کـړې شـئ.





# د فري‌ستایل سپورټ نوموتي افغان لوبغاړي رقیب فاروقي سره څو شېبې

◆ ۸صبح، کابل
◆ محمد عزیز پردېس

د ۸صبح پښتو مجلې درنو لوستونکو دا دی د خپلو ځانګړو مرکو په لړ کې مو د افغانستان د ورزش د ډګر ځوانې او هڅاندې څېرې ښاغلي رقیب فاروقي سره ځانګړې مرکه کړې ده، چې ستاسې پاملرنه ورته رااړوو.

مخکې له دې چې د ښاغلي فاروقي سره خپله مرکه پیل کړو، راځئ چې د فري‌ستایل ورزش په اړه لنډ معلومات ولولو.

فري ستایل سپورټ تقریبا یوی نوی ورزش دی چې د مختلفو ورزشي ځانګو یوه ګډوله یا ترکیب دی. دغه ورزش څلور کاله وړاندې د افغانستان په لودیځ کې، غور ولایت کې د ښاغلي رقیب فاروقي له لوري رامنځته شو.

په دغه ترکیبي ورزش کې، موټرسایکل کراس، کبدي، بوکسینګ، د بدن ښکلا، پاورلېفټینګ، غرختنه، او په یخبندان کې لامبو وهل پکې شامل دي.

**۸صبح:** ښاغلی فاروقي ډېره مننه چې موږ سره د مرکې لپاره وخت ځانګړی کړ، د لومړۍ پوښتنې په توګه که د دغه ورزش په اړه لنډ معلومات وړاندې کړئ؟

**فاروقي:** مننه، دغه څانګې ته فري‌ستایل سپورټ ویل کېږي او په دې ورزش کې ۷ ډوله ورزشونه موجود دي، یعنې د اوه ډوله مختلفو ورزشونو ګډوله یا ترکیب دی.

په دغه ترکیبي ورزش کې، موټرسایکل ځغلونه، کبدي، بوکسینګ، د بدن ښکلا، پاورلېفټینګ، غرختنه، او په یخبندان کې لامبو وهل پکې شامل دي. دغه ورزش مې خپل رامنځته کړی او خپله یې ترسره کوم. په نورو هېوادو کې هم دا ورزش شته، خو له دې ورزش سره یې توپیر دا دی چې ما ډېرې او مختلفې ورزشي څانګې سره یوځای کړې دي خو په نورو هېوادو کې بیا دوه یا درې ورزشي څانګې یې یوځای کړي او د یو ورزش په توګه یې کاروي. په راتلونکې هوډ لرم چې څو نورې ورزشي څانګې هم دغه ورزش سره یوځای کړم.

**۸صبح:** ستاسې اصلي هڅوونکي او ملاتړي څوک ؤ او دي، څوک د دغه ورزش په وده او پرمختګ کې ستاسې ترڅنګ ولاړ دي؟

**فاروقي:** زما ملګري، درانه هېوادوال مې او په ځانګړې ډول استاد کبیر نظري، استاد قدرت الله فروتن، استاد حبیب الرحمن فرزان او استاد جاوید او زموږ د ډلې غړي تل ما هڅوي او ملاتړ مې کوي او زه له ټولو منندوی یم.

**۸صبح:** فاروقي صېب، د دغه ورزش موخه څه ده، له دې لارې کوم پیغام غواړئ خپلو هېوادوالو او ځانګړې ډول ځوانانو ته یې ولېږدوئ؟

**فاروقي:** موخه مې په ټوله کې، په افغانستان کې د یوې بشپړې نوې ورزشي څانګې رامنځته کول ؤ، چې له نېکه مرغه بریالی شوم. هیله لرم چې نور هېوادونه هم له دې ورزش څخه ګټه پورته کړي او د نړۍ نورو سیمو ته هم ورسېږي. دا اوس معمول ده چې نور هېوادونه یو ورزش رامنځته کوي او افغانستان بیا ترې ګټه پورته کوي او دلته مینه وال او ملاتړي پیدا کوي، خو ما ځان ته دا جرأت ورکړ چې خپله یوه نوی او په زړه پوري ورزش رامنځته کړم څو نوره نړۍ یې له موږ څخه زده کړي او په خپلو سیمو کې




یې عملي کړي. د دې ورزش له لارې غواړم خپل بدني ځواک په مثبت ډول د نړیوالو نندارې ته وړاندې کړم. د دې ورزش له لارې غواړم ټولو ته د سولې پیغام ولېږدوم. د دغه ورزش له لارې غواړم ځوانانو ته دا پیغام ورسوم چې د مخدره توکو له کارولو ډډه وکړي.

**۸صبح:** له کومې مودې راهیسې مو چې دا ورزش پیل کړی دی، ښایي له مختلفو او ډول ډول خاطرو سره مخ شوي یاست، کېدای شي خپله یوه جالبه خاطره مو له درنو لوستونکو سره شریکه کړئ؟

**فاروقي:** خاطرې ډېرې دي. هغه کسان چې د غور ښار دننه ؤ، هغوی به له نږدې لیدلم او تل به یې هڅولم او ورزش ته یې ارزښت ورکوه، خو د کلیو او لرې پرتو سیمو اوسېدونکو به ویل، رقیب ته وګورئ چې څه کارونه ترسره کوي، دوی به ویل د ده کارونه د لېونتوب دي. جالبه راته دا وه چې دوی به ویل، رقیب موټرسایکل اخلي غرونو ته ځي، هلته موټرسایکل هم ماتوي، خپل وخت هم لګوي او له دورغو ځي غرختنه کوي....
دا راته ډېره جالبه وه او هېڅکله به مې له یاده ونه وځي، خو ما د خلکو خبرو ته ارزښت ورنکړ او په ډېرې لېوالتیا سره مې خپلو هڅو ته دوام ورکړ.

**۸صبح:** هغه ستونزې او ننګونې چې ستاسې مخنیوی کوي او ستاسې د ورزش مخه ډب کوي څه دي او د همدغو ننګونو د حل او مخنیوي لپاره مو غوښتنه څه ده؟

**فاروقي:** د دغه ورزش د ترسره کولو پرمهال مې ډېرې ستونزې لیدلې دي ځکه چې دا یو داسې ورزش دی چې ۴۰ سلنه د مرګ احتمال پکې موجود دی. د دې ورزش د ترسره کولو پرمهال د دې شونتیا شته چې د انسان لاس، پخه او یا هم د بدن نور غړي مات شي او یا هم د سړي زړه کار پرېږدي. خو دغه ټولې ستونزې مې پرځان منلې دي او تر دې ځایه مې ځان رارسولی دی. یادونه باید وکړم چې د دغه ورزش په ترسره کولو کې یوازې نه یم، ملګري مې دي چې ښې مشورې راکوي او ملاتړ مې کوي. د همدوی ملاتړ دی چې زه تر دې ځایه رارسېدلی یم. که د خلکو خبرو ته مې غوږ نیولی وی او جدي مې ګڼلې وی نو ښایي ډېر وخته به مې له دې ورزشه لاس اخیستی ؤ. د دغه ورزش لپاره ډېرو وسایلو ته اړتیا ده چې پیدا کول یې په یوازې ځان ستونزمن دي. له بده مرغه په دې برخه کې د افغانستان بدني روزنې اداري هېڅ هڅه نه ده کړې، زموږ ملاتړ یې نه دی کړی او حتی عادي لارښوونې یې هم راسره نه دي شریکې کړي. هیله لرم چې په راتلونکي کې دغه ورزش د بدني روزنې ریاست له لارې په رسمیت وپېژندل شي او د ودې لپاره یې ډېر کار وشي.

**۸صبح:** ښاغلی فاروقي د دې ورزش یوه ځانګړتیا دا ده چې د کال په څلورو فصلونو کې ترسره کېدی شي، که دغه موضوع لږ روښانه کړئ؟

**فاروقي:** هو! د دې ورزش یوه ځانګړنه دا ده چې د کال په څلورو فصلونو کې کولی شو ترسره یې کړو. د پسرلي په موسم کې له ازاد طبعیته په ګټې اخیستنې سره له لرګیو، خټې او خاورې څخه او همداراز د ژمي په موسم کې له یخبندان، واورې او سړو اوبو څخه په ګټې اخیستنې سره او همدارنګه د منۍ او اوړي موسمو کې هم کولی شو دا ورزش وکاروو او ترسره یې کړو. په ټوله کې دا یو سیار یا ګرځنده ورزش دی چې هر ډول چاپېریال کې ترې ګټه پورته کړو.

**۸صبح:** د وروستۍ پوښتنې په توګه، له اړوندو دولتي او شخصي بنسټونو څخه مو غوښتنه څه ده؟

**فاروقي:** غوښتنه مې دا ده چې د خپلو ورزشي لوبغاړو ملاتړ وکړي، ویې هڅوي او د لوبو زمینې ورته برابرې کړي. که له ما څخه ورزشي بنسټونه ملاتړ وکړي زه چمتو یم چې ترټولو غوره حرکات نندارې ته وړاندې کړم او د نړیوالو پاملرنه ځان ته راجلب کړم.
هیله ده په دغه ورزش باندې پانګونه وشي څو په اسانۍ سره وده وکړي. مننه.















# ننګرهار کې د نارنج ګل سرېنی مشاعره او مېله له یو شمېر نوښتونو سره جوړه شوه.

دغه مشاعره چې سږکال د جلال‌اباد ښار د عدم تشدد ستر سرلاري پاچا خان بابا په مزار کې جوړې شوې وه د هېواد له ګوټ ګوټ او له هېواد بهره ورته ګڼ شمېر شاعران، ادیبان او فرهنګیان رابلل شوي ؤ.

Magazine
Hasht e Subh
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



دغه پلار واقعي اتل دی!
هېواد کې د روانو ناخوالو د له منځه وړلو یوازینی حل‌لاره تعلیم دی او تعلیم ته ارزښت ورکول دي.
( تعلیم به مو د سیالانو سره سیال کړي )